د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د پکتیکا پوهنتون

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د نظم او دیسپلین عمومي کمېټه

# د انضباط پالیسي

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

کال :...................................................................................... ۱۴۰۴ هـ. ش

# د مطالبو فهرست

عـــــــــــــــــــــــــــــــنـــــــــــــــــــــــــــــــــــوان

مخ


لومړی برخه ........................................................................................................1
اساس ، هدف ،او د پالېسي بیان ........................................................................1
دویمه برخه.........................................................................................................2
سرغړوني ..........................................................................................................2
ټولنېز ضد چلندونه په لاندي ډول باندي دي : ......................................................2
دریمه برخه .......................................................................................................3
مجازات............................................................................................................3
څلورمه برخه......................................................................................................4
کړني ................................................................................................................4
یادونه ۱ : ..........................................................................................................5
یادونه ۲ : ..........................................................................................................5
پنځمه برخه.......................................................................................................5
متفرقه جملي.....................................................................................................5
۱. نظارت ..........................................................................................................5
۲. بیاکتنه ..........................................................................................................5
د دی پاڼسی سرغړونی .......................................................................................8
پالېسي ته لاسرسی ...........................................................................................8
د پالېسي تعدیل ...............................................................................................8
د پالېسي تائید ..................................................................................................8


Paktika University

# لومړۍ برخه

## اساس ، هدف او د پالیسي بیان

### ۱ . اساس

دا پالیسي د لوړو زده کړو وزارت د نظم او ډسپلین د قانون او د تضمین کیفیت چوکاټ (۴۰،۸) معیارونو په اساس ترتیب شوې ده

### ۲ . هدف

د دې پالیسي د تصویب موخه په پوهنتون کې د ټولو سرغړونو د نظم سره په شفافه او عادلانه توګه چلند او د خوندي اکاډمیک چاپېریال رامنځته کول دي.

### ۳ . د پالیسي بیان

پوهنتونونه او دلوړو زده کړو موسسې د لوړو زده کړو اکاډمیک سرحدونه دي چې د هېواد خورا تکړه ځوانان روزي تر څو د تخصص او د لوړو زده کړو په ترلاسه کولو سره خپل هېواد په ټولنیز، کلتوري او مدیریتي اړخونو کې د سوکالۍ او پرمختګ په لور رهبري کړي؛ استادان او محصلین د خپلې ټولنې د مخکښې طبقې په توګه د تخصصي علومو د زده کړې او تدریس مسولیت لري. د اکاډمیک نظم مراعات کول او د اکاډمیک شخصیت او شاخصونو ساتنه د پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو په چاپېریال کې یو له اساسي ارتیاوو څخه دي هر هغه چلند چه علمي نظام ګډوډ کوي د نورو حقونه تر پښو لاندې کوي او د امنیت دمنلو وړ نه وي هغوي ته باید جدي تصمیمونه ونیول شي«۱»

نو لازمه ده چه د علمي نظم نه مراعات کول او په چاپېریال ، پوهنتونونو او ښوونیزو موسسو کې د پېژندل شویو اصولو څخه د سرغړوني مسایل دلاندې پالیسي. په بنه پلي شي تر څو په پریکړو کې شفافیت او همغږي را منځته شي او له خپل سري پریکړو څخه پاک شي .

د پوهنتون او پوهنځي دلوړ مقام ساتنه ،د ښوونیز چاپېریال په سالم ساتلو کې مرسته کول او د محصلانو د وقار ساتل ،او نورو حکمونو ماتول ، او د فردي او ټولنیزو حقونو له پامه غورځولو سره له هغوي د هڅولو له لاري د محصلینو د عمومي حقونو تامینول مهم دي ښکاره ده چه د محصلینو ،استادانو او مامورینو د سرغړوني په اړه سمي او قانوني لاري ته بامطرنه د قضا او تصمیم نیولو به برخه کې د تقوا مراعات کول د نظم او ډسپلین کمېټې له اساسي او نه منونکو اصولو څخه ګڼل کېږي .

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمي و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

### ۴. اصطلاحات

په دغه پالیسي کې لاندې اصطلاحات په لاندې ډول باندي تعریف شوي دي .

دنظم او ډسپلین کمیټه : هغه کمیټه ده چه د ځینو غړو څخه جوړه ده چه دنده یې ټولو غیر قانوني کارونو او سرغړونو ته لاسرسي دي

اکاډمیکې سرغړوني : هغه کړني دي چه جزا نه لري مګر دلوړو زده کړو وزارت د اکاډمیکو مقرراتو سره مخالف وي .

جرم : هغه عمل دي چه هم جزا ولري او هم د اکاډمیکو مقرراتو مخالف وي

مجازات : هغه انضباطي اقداماتو ته اشاره کوي چه د خطاکارو اشخاصو لپاره په پام کې نیول کېږي . «۲»

## دویمه برخه

## سرغړونې

### ۱. جرائم

رشوت ،اختلاس ،جنسي تیري ،له مقام څخه نا قانونه ګټه اخیستنه ،غلا ،قتل ،د اسنادو او امتحان پاڼوغلا ،وهل ټکول ،فحشـا ، د دروا‌غو خپرول او جنایي اعمال هغه عملونه دي چه خطا کار نه یوازې دا چه عدلي او قضـائي ارګانونه ته سپاري بلکې دهېواد عدلي او قضائي ارګانونه کولي شي هغه کس د لږ وخت یا دایم لپاره اخراج کړي.

د اړوندو تعلیمي ادارو دعلمي شـورا لخوا د پورته ذکر شـویو سرغړونو دمجازاتو تصـویب په دي پوري اړه لري چه آیا ګوښه کول لنډ مهاله وي یا دایمي .

### ۲. د ټولنې ضد چلند

د ټولنې ضد چلندونه په لاندي ډول باندي دي :

۱. شخصي برید ، جنسي ځورونه ، ملکېت او عامه شتمنیو ته زیان رسول ،اود ساینسي ټولنېزو او کلتوري پیښو ته زیان رسول ؛

۲. د پوهنتون د پالېسـیو ، لایحي ،او مقرراتو څخه سرغړونه ، لکه دلیلي مقررات ، د ازمویني د لایحي یا د تعلیمي موسسي د تا سیساتواو تجهیزاتو څخه غیر قانوني ګټه اخیستنه؛

۳ . لوړواسلامي ارزښتونو ته نه پاملرنه ؛

۴. د تد ریس ، څېړنې ، مدیریت او اداري نظم ګډوډ کول ؛

۵. په پوهنتونونو اوتعلیمي موسسـو کې د بل چا ګواښـول او په نورو باندي فشار اچول یا هر هغه عمل چي فزیکي رواني روغتیا او خوندیتوب له خطر سره مخ کوي ؛«۳»

۶. په پوهنتونونو او لیلیو کې دنشه يي توکو ، الکولي مشروباتو ، قمار او غیر قانوني کړنو کول؛

۷. قومي ،ژبني او فرقه يي تعصباتو ته لمن وهل ؛

۸. دهر ډول وسـلو در لودل ، پلورل ،لیږدول او خپرول اور لګونکې او چاودیدونکې توکې یا د هر هغه څه درلودل چه د وسلي په توګه وکارول شي

۹. تخریبي کړنې او د دندو په پلي کولوکې د پوهنتون د چارواکو له قانوني لارښونو څخه سرغړونه ؛

۱۰. په قصدي او اګاهانه توګه دامنیتي چارواکو له امر څخه سرغړونه او د پوهنتون په چاپېر یال کې په غیر مجاز ځاي کې د موټر چلول او درول؛



د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

د دي قانون د دريمي مادي له مخي سرغړونکې به د سرغړوني د تکرار په صورت کې به په لاندي ډول مجازات کېږي سپارښتنه (توصیه)، اخطار، دمقام کمول، تبدیلي، د تحصیل او دندي څخه گوښه کول د پوهنتون د علمي شورا د تصویب څخه وروسته ؛

## ۳. اکاډمیکې سرغړوني

۱. د نورو لیکوالانو له علمي او فکري اثارو څخه ناوړه گټه اخیستنه لکه دمقالو په لیکلو کې د مونو گرافونو په لیکلو کې او د کتابونو په لیکلوکې د لیکوال داجازې پرته یا د سرچینې د معرفي کولو پرته د نورو د نظرونو مفکورو او تجربو کارول د جملو یا تورو په بدلولو سره«۴»

۲. دعلمي څیړنو له پایلو څخه د ناسمو او جعلي احصایو او معلوماتو چمتو کول ؛

۳. هر ډول جعل کول او درغلي د ازمویني په پاي کې د نمرو تبدیل

(په قصدي توگه د نمرو کمول یا زیاتول ) دتعلیمي مؤسسو د چارواکو په لاسلیکونو کې جعل کول او داسي نور اعمال چه د امتیازاتو د تر لاسه کولو لپاره په غیر قانوني توگه کارول کېږي ؛

۴. داسنادو جعل کول ، له اجازې پرته د پوهنتون اسنادو او وسایلو کارول د ناوړه گټې اخیستنې په نیت ؛

۵. د نقل کولو هر ډول عمل لکه د نورو سره د پوښتنو تبادله د ازمویني د مخه یا د ازمویني په جریان کې او په پټه توگه تخنیکې ، مخابراتي ، او نشراتي وسایلو څخه استفاده ؛

۶. په امتحان کې د بل چا په ځاي حاضرېدل ؛

۷. د اداري یا یوه مشخص شخص پوري مربوطو معلوماتو ته د لاسرسي لپاره د کمپیوټر او بریښنایي وسایلو غیر قانوني کارول ؛

۸. دمعلوماتو ، تکنالوجي له اسانتیاوو او د پوهنځي او پوهنتونونو اړوندو وسایلو څخه ناوړه گټه اخیستنه فاحشو او مخالفو سایټونو ته لاسرسي او یا یي جوړول یا خپرول ؛«۵»

## دریمه برخه

## مجازات

هغه کسان چه د قوانینو او مقرراتو څخه سر غړونه کوي او په ټولنه او پوهنتون کې د گډوډي لامل کېږي دقانون او مقرراتو سره سم دخپل جرم سزا ورته د کمېټي لخوا په لاندي ډول باندي ټاکل کېږي ؛

۱. لفظي سپارښتنه (توصیه)؛

۲. دزده کونکې په دوسیه کې د شاملولو پرته لیکل شوي خبر داري؛

۳. د زده کونکې په دوسیه کې شامل لیکل شوي خبرداري؛

۴. لیکل شوي اخطاریه او په دوسیه کې شاملول؛

۵. له زده کونکې څخه د سرغړوني د نه تکرارولو لیکلي ژمنه اخیستل ؛

۶. دسزا زیاتول د خطا په تکرار سره نوموړي شخص ته ؛

۷. د پوهنتون د اسانتیاوو څخه محرومیت ؛

۸. په هغه مواردو کې چه سرغړوني زیانونه رامنځته کړي د تاوان اخیستل ؛

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

۹. دسرغړونکي محصل د درسي ټایم بدلول ؛

۱۰. د پوهنځي د نظم او ډسپلین کمېټې تر واک لاندي تر لسو ورځو پوري له زده کړي څخه لنډ مهاله ګوښه کول او له دي څخه ډیر د پوهنتون دنظم او ډسپلین د مرکزي کمېټي واک دي

۱۱. له یوي څخه تر ۳۰ ورځي پوري ګوښه کول؛

۱۲. د یو سمستر لپاره ګوښه کول ؛

۱۳. د یو کال لپاره ګوښه کول ؛

۱۴. د دائم لپاره ګوښه کول ؛«۶»

## څلورمه برخه

## کړني

### ۱. د قضیي راجع کول

یوه قضیه په لاندي حالاتو کې دنظم او ډسیلین کمېټي ته راجع کېږي :

۱. د محصلینو په وړاندي د اداري کارکونکو یا استادانو مستقیم شکایت ؛

۲. د غلط زده کونکي په وړاندې د محصل یا محصلینو مستقیم شکایت ؛

۳. د پوهنتون او پوهنځي دکارمند له لاري د سرغړوني هدف لیدل او د نظم او ډسپلین کمېټې ته راپور وړاندي کول ؛

۴. دامنیتي کمرو له لاري دانضباطي پیښي ثبتول او کمېټې ته يې راپور ورکول ؛

۵. د اداري کارمندانو یا استادانو په وړاندي شکایت کول ؛

### ۲. د راجع کولو راتلونکې مرحلي

وروسته له دي چه قضیه د نظم او ډسپلین کمېټې ته وړاندي شي د نظم او ډسپلین کمیټه موضوع په هر اړخیزه توګه څیړي او کمېټه د قضیې د راجع کېدلو نه دري ورځي وروسته غونډه کوي .

### ۳. پرېکړې

د نظم او ډسپیلن کمېټې د هراړخیز غور وروسته خپله فیصله د لوړو زده کړو د وزارت د لايحي په اساس په لاندي ډول وکړه

الف ) محکوم شوي شخص کولی شي د پرېکړې له خبرتیا څخه تر دریو ورځو پورې په کمېټه کې خپله استیناف غوښتنه وکړي.

ب ) د زده کونکي د استیناف اداره کولو واک د نظم او ډسپلین کمیتي سره دي «۷»

ج ) که چېرې د کمېټې پرېکړه د محکوم شوي شخص دایستلو لپاره وي وروسته له دي چي پرېکړه مجرم ته وپېژندل شي بیان شوي شخص حق نه لري چه په اداره کې ګډون وکړي .

د ) د پو هنځي د نظم او ډسپلین کمېټې پرېکړه د پوهنځي څخه دلسو څخه د زیاتو ورځو لپاره اخراج ، او د مجازاتو لپاره د پوهنتون د نظم او ډسپلین کمېټې یا د پوهنتون د علمي شورا له وروستي پرېکړې وروسته د اعتبار وړ ده .

هـ ) د نظم او ډسپلین کمېټې پرېکړې د معلوماتو د کتاب له لاري ټولو محصلینو ته رسول کېږي .

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

یادونه ۱ :

انضباطي حکمونه یوازې د پوهنځي او پوهنتونونو د نظم او ډسپلین کمېټو له لارې صادرېږي او نور بنسټونه د نظم او ډسپلسن کمېټې لخوا د صادرشویو حکمونو پلي کولو پرته د کوم انضباطي مجازاتو احکامو صادرولو یا پلي کولو واک نه لري .

یادونه ۲ :

د ديني لارښوونو او د محصلینو د خوندیتوب او مصؤنیت د اصولو پربنسټ ، د نظم او ډسپلین کمېټې غړي او کارکوونکي اجازه نه لري چې د محصلینو شخصي ـ ژوند ته جاسوسي وکړي او دوي مکلف دي چه د محصلینو د سرغړونو په اړه ټول معلومات محرم وګڼي او تر هغه وخته یې افشا نه کړي تر څو د نورو لپاره درس او عبرت نه وي «۸»

## پنځمه برخه

## متفرقه جملې

### ۱. نظارت

د محصلانو چارو مرستیال به د پوهنتون په کچه د محصلانو د انضباطي پالیسیود تطبیق څارنه کوي او د اداري د ما موریت او لوړو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره به د مشر تابه لوړ پوړي ټیم ته مناسب معلومات ورکوي .

### ۲. بیاکتنه

د محصلانو چارو مرستیال ډاډ ورکوي چه د دې پالیسي ـ د ترویج په موخه به ګټه اخیستونکو ته کافي سرچینې برابرې شي پالیسي او طریقې به هر کال به مؤثره توګه وڅېړل شي او لازم اصطلاحات به رامنځته شي .

### ۳. د دي پالیسي سرغړونې

د دي پالیسي او زده کونکو انضباطي طرزالعملونه به د هر ډول سرغړونو د قانوني بندیزونو لامل شي .

### ۴. پالیسي ته لاسرسی

دا پالیسي به د پوهنتون په ویب پاڼه کې خپره شي .

### ۵. په پالیسي کې سمون

دا پالیسي ـ کېداي شي تعدیل (برابره) شي که چېرې د نظم او ډسپلین کمېټې دوه پر دریمه برخه غړي یې وړاندیز وکړي خو د علمي شوا له تصویب وروسته به پلي کېږي .«۹»

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## ۶. د پالیسي تائید

دا پالیسي د نظم او دیسپلین عمومي کمېټې په (    ) پروتوکول او   /    / ۱۴۰۴ نېټه کې تائید ده

**پوهنمل محمد یوسف واحدیار**

**د علمي او محصلانو چارو معاون**

دا پالیسي د پوهنتون د علمي شورا په (۴ ) پروتوکول او (۲۲/ ۴/ ۱۴۰۴) نېټه کې تائید ده .

**مولوی سید محمدداود آغا الهاشمي**

**د پکتیکا پوهنتون رئیس**